هیئت معاونت ملل متحد در افغانستان

دفتر سخنگوی
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
پوست الیکترونیکی: spokesperson-unama@un.org
ویب سایت: www.unama-afg.org

**مطبوعاتی کنفرانس ( کابو تکی په تکی )**

**ریک کورسینو د ملگرو ملتونو د نړیوال خوراک سازمان مشر په کابل کی**

**تیکیستی تیکی د ملگرو ملتونو د خوراک او کرهنی د اداری مشر په کابل کی او**

**داکتر نیلاب مبارز، د یوناما د مطبوعاتی دفتر څخه**

*کابل دوشنبه د جنوری میاشتی ۱۴ نیټه ، کال ۲۰۰۸*

**یوناما :** په سلام وړاندی کولو سره، زه نیلاب مبارزد یوناما د دفتر مطبوعاتی مسؤله یم. زمونږ د نن ورځی رسنیز کنفرانس ته ښه راغلاست. زمونږننی کنفرانس د بشری مرستی لپاره ځانګړی شوي دی، زموږ سره میلمانه دي ښاغلی ریک کورسینو د ملګرو ملتونو د خوراک د نړیوال سازمان مشر په افغانستان کی او ښاغلی تیکیستی تیکی د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهنی اداری مشر دي. روسته به دوي موږ او تاسو د بشری مرستو په اړه معلومات راکړی، خو مخکی تر هغه یو لنډ رپوټ لرو چی تاسو ته به یی وړاندی کړو.

**د خبرو اترو مهم ټکي:**

**د روستیو واورو وریدل او د واوري د راشیو اغیزی (برفکوچونه)**

د ملګرو ملتونو سازمان د واورو او د راشیو رپوټونه په ټول هیواد کی د نږدی څخه څاری. د بشری تلفاتو مجموعی شمیر لا تراوسه پوری معلوم نه دی. خو سره له دی هم موږ د دی د اغیزو څخه پر آسیب پذیره ټولنو باندی اندیښمن یو او اوضاع له نږدی څخه څارو. د حکومت او نورو مرستندویه ادارو سره خپل کوښښونه همغږ کوو. په ډیری ځایو کی د ژمي مرستی لا دمخه ځای په ځای شوي دي.

**ریک کارسینو، د ملګرو ملتونو نړیوال خوراکي پروګرام (WFP):**

ستاسو ټولو سهار دي نیکمرغه وي، زه غواړم چي د تیرو میاشتو او په تیر کال کي د اساسي خوراکي توکو د نرخونو د لوړوالي په هکله خبري وکړم او هغه څه هم معلوم کړم چي په افغان وګړو کومي اغیزي اچوي.

د تیر کال یوې میاشت راهیسي موږ د افغانستان د حکومت سره یو ځای پدې کار کوو چي د اساسي خوراکي تولیداتو لکه غنمو، وړو، نباتي غوړیو او داسي نورو توکو د قیمتونو د لوړوالی اندازه وارزو او لدې وجي څخه کوم کسان زیات اغیزمن کیږي. موږ د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې د سازمان او د افغانستان د حکومت د ارزونو څخه دا معلومات تر لاسه کړ چي د تیرو ۱۲ میاشتو په ترڅ کي د هیواد په کچه د غنمو د قیمتونه نږدي ۶۰ په سلو کي لوړ شوي او بیا په ځینو ځایونو کي دا نرخونه نږدي ۸۰ په سلو کي لوړ شوي دي.

د نرخونو دا لوړوالی د افغانستان لپاره بی جوړي نه دی، بلکه د نړۍ په کچه د غنمو نرخونه نږدي سل په سلو کي جګ شوي دي. د نرخونو د لوړوالی زیات لاملونه دی، لامل یي د نړۍ په ځینو برخو کي په ځانګړی ډول آسیا، چین، او هندوستان کي د خوراکي حبوباتو لپاره د غوښتنې لوړه کچه ده، د ځینو غلو دانو اړونه او استعمال د بیولوژیکی موادو د برابرولو لپاره او هم په ځینو ځایونو کي په عنعنوي توګه زیات غنم کرل کیدل، ۲۰۰۷ کال یو بي یا کم حاله کال وه.

که افغانستان له نږدی څخه مطالعه شی نو موږ همدارنګه په سیمه ییزه کچه لیدلای شو چي بییی په پاکستان که هم پورته تللی دي. د کوم ځایه چي تجارتی اوړه افغانستان ته راځی، د دي ډیر لاملونه دي لکه په پاکستان کی سیاسی بی باوری او په متناوبه توګه د خوراکی موادو د پولی د لاری افغانستان ته بندیدل دی. او پخپله په افغانستان کی مونږ د ددی څخه خبرتیا لرو چي د هیواد په ځانګړو سیمو کی د خوراکی موادو د مصونیت نشتوالی د ترانسپورت جګه بیه په دي کی اغیزه لري. د خوراکی موادو ترانسپورت او لیږدونه لوړه بیه لري او په همدي ډول د موادو د لوټولو او پر لیږدوونکو د برید احتمالی خطر شته. داسی آټکل کیږي چي د موادو بییی لوړ شی. کوم تحلیل چي موږ د کرهنی د وزارت سره یو ځآی کړي دی، په کی هڅه شوي هغه وګړي چي د اساسی خوراکی توکو د بیو د زیاتوالی څخه تر ټولو زیات اغیزمن شوي، په نښه کړو. دغه تحلیل اوس د افغانستان په کلیوالی سیمو کی بشپړ شوی او زه باید په دی تاکید وکړم چي د دغو موادو د اړتیا اندازه په

نوموړو سیمو کی اتکل شوی، او داسی انګیرل کیږی چې ۳ میلیونه افغانان کوم چې پخوا اتکل شوی وو چې د خطر پر پوله ولاړ دي اوس د بیو د زیات لوړ والی له امله به د خوراکی توکو د نه امنیت د لوړ خطر سره مخامخ وي. موږ دی نتیجی ته رسیدلی یو چې د دې ډلی خلکو سره مرستی عادلانه او ضروری دی چې باید د بل فصل د رسیدو وړاندي دوي ته ورسیږی. پرته له شکه تاسی پوهیږئ چې دغه چاري دې پوری دی پوری هم اړه لري چې چیرته فصل اخیستل کیږی او دغه وګړي پ دقیقه توګه چیرته دي. دا به یوه انسانی مداخله دوی او هدف یی دا دی چې یو اشاریه دری میلیونه وګړو ته چې په عمده توګه په کلیوالو سیمو کی اوسیږي مرسته وشی. د دی کار د سرته رسولو لپاره ۴۰۰۰۰ ټنو د اضافی خوراکی موادو ته اړتیا شته او دا د نړیوال خوارکی پروګرام د جاري پروژو څخه به زیات وي، د اضافی پروګرام د ۳۰ میلیونو امریکایی ډالرو په شاوخوا کی ارزښت لري.

موږ به د دولت د وزارتخانو سره، په تیره بیا د کرهنی او کلیو د بیارغونی او پراختیا وزارت سره کار وکړو چې د خوړو ویشلو لپاره یوه ډیره ښه لاره پیدا کړو. زموږ په فکر اوس داخبره ده چې امکان لري دغه کار به په عمده توګه د کار په بدل کی د خوړو پروژی په کلیوالی سیمو کی وي. خو لومړی باید موږ دغه خواړه زیرمه کړو او موږ له حکومت سره یو ځای له یو شمیر کلیدی مرستندویانو سره خبری کړیدي او دا چې موږ به په دغه راتلونکی اوونی کی د ملګرو ملتونو په استازیتوب د حکومت په مشری څه وکړو، هغه دا دی چې موږ به یوه تقاضا د دغو د مرستو لپاره، د هغو شیانو په ګډون چې د ملګرو ملتونو نوری موسسی هم اړتیا لري چې دغو خلکو سره مرسته وکړي، ورکړو.

دولت هم د مرستی په لاره کی ګامونه اخلی د ساری په توګه په دغه ورستیو کی یو تصمیم ونیول شو چې په وارد شوو غنمو، اوړو باندی مالیه له منځه یوړل شی او وارد شوو سبزیجاتو باندی مالیه کمه کړای شی. دا زموږ په نظر یو مهم ګام دي او دولت کوشش کوي چې د اوږدی مودی یو څو نور ګامونه هم د ملګرو ملتونو سره په ګډه پورته کړي. زما همکار به ډیر ژر دغه ګامونه تاسی ته بیان کړي.

او په پای کی هغه ټکي چې ما غوښتل یاد یی کړم دا دی چې کوم اقدامات چې ما یاد کړل په بشپړه توګه کلیوالی سیموته محدود دي. د دغی خبری معنا دا ده چې په ښاری سیمو کی د خلکو لپاره اندیښنه نه شته او دولت له موږ سره کار کوي چې کوم ممکن تدبیرونه ونیسی څو له غو خلکو سره مرسته وکړي.

## د خوراک او کرنې د سازمان (FAO) د رسنیز کنفرانس د خبرو ټکي

سلامونه او سهار مو نیکمرغه.
زه غواړم چې په لنډ ډول په افغانستان کي د خوراک او کرنې د سازمان (FAO) د فعالیتونو په اړه خبرې وکړم. او په پای کې موږ دواړه ریک او زه به ډیر خوښ شو چې ستاسو پوښتنو ته ځوابونه و وایو.

د خوراک او کرنې سازمان (FAO) دوه ستر فعالیتونه لري. یو لنډ مهاله بیړنۍ او د بیا رغونې پروژې او دوهم اوږد مهاله پراختیایي فعالیتونه.

لنډ مهال بیړنۍ او د بیا رغونې پروژې

په لنډ مهاله فعالیتونو کې د خوراک او کرنې سازمان (FAO) له کروندګرو سره مرسته کوي، کله چې هغوي له بیړنیو حالاتو سره مخامخ شي لکه سیلابونه، وچکالي، د نباتي ناروغیو کنترول او ساري ناروغتیاوې.

د خوراک او کرنې سازمان (FAO) د پسرلي په موسم کې ۵۶۰ ټنه د غنمو تخم او ۴۷۷ ټنه کیمیاوي سره د بادغیس، جوزجان، سمنګان او سرپل په ۱۱،۰۰۰ وچکالۍ ځپلو کورنیو باندې وویشل.

د خوراک او کرنې سازمان (FAO) د ۲۰۰۷ کال د مني په موسم کې ۶۰۰ ټنه تخم او ۱۲۰۰ ټنه کیمیاوي سره د پنجشیر، کندهار، لوګر، غور، کنړ او نیمروز ولایتونو په ۱۲،۰۰۰ کورنیو باندې په سیلاب ځپلو او د خوړو په نا ډاډمنو سیمو کې وویشل.

د خوراک او کرنې سازمان (FAO) همدارنګه د حشراتو (هغه مضري حشري چې په هیواد کې د ختیکیو او کچالانو پر تولید ناوړه اغیزه کوي، نوموړي دوه فصلونه د هیواد د نغدو پیسو د تر لاسه کولو دوه کلیدي فصلونه ګڼل کیږي) د کنترول د کمپاینونو سره هم مرسته کړې.

همدارنګه به د ۲۰۰۸ کال په بهیر کې د ختیکیو د مچ او د کولاردو د ګونګټې د له منځه وړلو بریالي کمپاینونه هم پر مخ بوړل شي.

اوږد مهاله پرمختیایي پروژې
تصدیق شوي تخم (Certified Seed)

په اوږد مهاله پرمختیایي پروژو کې- په ټول هیواد کې به کروندګر، د لومړی ځل لپاره، د مني په موسم کې د غنمو د فصل د کرلو لپاره داسې تخم استعمال کړي چې نړیوال کیفیت به لري.

همدارنګه د غنمو د تخم نور ۲۲ اصلاح شوي ډولونه شته چې د للمي او اوبو لرونکو ځمکو لپاره کارول شي، چې تمه کیږي دغه اصلاح شوي ډولونه به د یو هکتار په سر په حاصل کې ۳۰ فیصد زیاتوالي رامنځ ته کړي. چې دا د کروندګرو او د افغانستان د ټولو وګړو لپاره په زړه پورې خبر دی.

د لوړ کیفیت لرونکي دغه تخمونه به کروندګرو ته د غلې زیات حاصلات او همدارنګه د ښو حاصلاتو تولید ورکړی کوم چې به د ناروغیو په وړاندې زیات مقاومت ولري.

د دې لارې څخه به د هیواد د غذایي مصونیت په هکله ډاډ حاصل شي، د لوړې کچه به را ټیټه شي او هیواد به د غنمو د بسیاتوب په لور وخوځوي.

تیر کال په هیواد کې د غنمو ښه حاصلات تر لاسه شول او په نتیجه کې د هیواد د واردولو اړتیاوې راټیټې شوې. د خوراک او کرنې سازمان FAO تمه لري چې ۲۰۰۸ کال به د هیواد په کچه د غنمو د ښو حاصلاتو کال وي.

د لبنیاتو پروژې

موږ د شیدو او لبنیاتو د تولیداتو یوه پروژه تر لاسه لاندې لرو چې د نږدې ۱.۲۰۰ بزګرو کورنیو سره مرسته کوي او همدارنګه لدې لارې به په وردګو، مزار، هرات او کندز کې څه نا څه ۷۰۰۰ مصرف کوونکي ته ګټه ورسوی.

په ۲۰۰۷ کال کې زموږ د هڅو په نتیجه کې چې موږ کومې کورنۍ تر هدف لاندې نیولې وې د هغوي کورنۍ عایدات د ۵۸ څخه تر ۵۲۷ امریکایي ډالرو پورې لوړ شول. موږ تمه لرو چې په ۲۰۰۸ کال کې به هم دا بریالیتوب دوام وکړي.

بیرنۍ اوبه لګونې

په ۲۰۰۷ کال کې د خوراک او کرنې سازمان د انرژۍ او اوبو د وزارت په مرسته څه نا څه ۱.۲۸۰ کوچنۍ، منځنۍ او د اوبو لګونې غټې نقشې او پلانونه پلي کړی.

دغه پروژې د فارمونو لپاره اوبه برابرې کړې چې په نتیجه کې یې د کرنیزو حاصلاتو او فارمونو د عایداتو کچه لوړه شوی. له دې امله په غذایي مصونیت کې ښه والي راغلي او د وچکالی د خطر کچه یې راکښته کړی، دا د هیواد د فارمي صنعت لپاره حیاتي خبره ده او موږ به پدې هکله خپلو هڅو ته دوام ورکړو.

نور جاري فعالیتونه

په هغو ځینو نورو فعالیتونو کې چې تمه کیږي د خوراک او کرنې نړیوال سازمان ونډه ولري هغه د غذا ځانګړی پروګرام دی.

موږ به همدارنګه په بامیانو کې د هغوي په کلیو کې د ټولنو سره د کرنیز معیشت دوامداره پروګرام جوړ کړو.

موږ به د افغانستان د حکومت سره په ځانګړي ډول د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ او د انرژۍ او اوبو له وزارتونو سره د پالیسی د جوړولو په برخه کې له نږدې کار وکړو ترڅو د غذایي مسلو په برخه کې د افغانستان د خلکو سره په نیغه توګه مرسته وکړو.

ستاسو څخه ډیره مننه. اوس به زه او ریک ستاسو پوښتنې واخلو.

**راديو آزادی اروپا:** ښاغلی کارسینو، تاسو د عدم مصونیت او ځینې نور لاملونه چې د بیبو د لوړوالی تر شا دي یاد کړل. آیا تاسو فکر نه کوئ چې د بازار اقتصاد همدارنګه د دې سبب دی ځکه چې د بازار اقتصاد په یو هیواد کې باید د اقتصادي ودې سره یو ځای تطبیق شي چې دغه وده په افغانستان کې ډیره سوکه ده؟

**نړیوال خوراکی پروګرام:** د آزاد بازار اصول دلته په افغانستان کې کارول کیږي. موږ دلته نه دي لیدلي چې په افغانستان کې د دې لارې زیاتوالی راغلي وي. موږ باوري یو چې دا زیاتره بهرني عوامل وي، چې په په نړیواله کچه په بیبو کې زیاتوالی راغلی دی او د دې سره د پاکستان د څو تیرو میاشتو پیښنو هم په دې باندې اغیز درلودلي.

**د طلوع تلویزیون:**. تاسو د دې یادونه وکړه چې تیر کال په افغانستان کې د غنمو په تولید کې زیاتوالی راغلی دی. آیا د دغه زیاتوالی په پایله کې به د غنمو د نرخونو د زیاتوالی مخنیوی وشي؟

**د خوراک او کرهنی سازمان:** د غنمو حاصلات په سلو کې ۹۰ د هیواد اړتیاوې پوره کوي، په دې توګه په سلو کې لسو ته اړتیا ده چې غنم را وارد شي او د دې سره هغه کسان چې هیواد ته راستنیږي هم ور زیاتیږي. نو په دې توګه کمښت ۶۰۰،۰۰۰ ټنه دی. زه په دې باور یم چې په حاصلاتو کې زیاتوالی ددې سره مرسته کړې ده چې د بیبو د لا زیاتیدو مخنیوی وشي. د کال په اوږدو کې د بیبو زیاتوالی دوام لري خو په دې نړیواله بیه هم اغیزه لري. د غنمو بیه په نړیواله کچه د ۲۰۰۷ کال په اوږدو کې په سلو کې سل پورته تللي ده. په افغانستان کې دا یوازې په سلو کې ۴۵ پورته تللي ده

**آل آنډیا راډیو:** تاسی وویل چې د دونرانو څخه مو د مرستی غوښتنه کړی ده، آیا هغوی غبرګون ښودلي او امنیتی وضعه څومره ناوړه ده کله چې تاسی هڅه کوي مرسته ورسوي، او نا امنی ستاسی فعالیتونه په څه ډول اغیزمن کوي؟

**نړیوال خوراکی پروګرام:** تر کومه ځایه چې په غوښتنی پوری اړه لري موږ له تر اوسه کومه رسمی غوښتنه نه ده وړاندی کړې. دا کار به له دولت سره په ګډه د دولت په مشری سره وشي. کوم څه چې موږ کړي هغه دا دي چې په دا تیره میاشت کی موږ یوه ارزونه کړیده. موږ په دې پیل وکړ، چې مرستندویان د ستونزی په

وړاند حساس کړو چې په دي توګه کله چې موږ هیله ده، په راتلونکی اوونی کی غوبنته کوو نو دوي به حیران نه وي او د دی کار لپاره چمتو وي. ستا خبره د نا امنی په اړه بیخی سمه ده. دغه کار زموږ توان اغیزمن کوي چې د هیواد په ځینو برخو کی مرسته ورسو، په خاص ډول په لویدځ کي. زه صرف دومره غواړم چې د دغی موقع نه په استفادی سره هغه غوبنتنه تکرار کړم چې موږ په دی خونه کي له ټام کونیګز سره یو ځای هغو خلکو ته وکړه چې د بشری مرستو د انتقال خنډ ګرځی چې موږ ته د دغو شیانو اجازه راکړی چې پر مخ ولاړ شو. ځکه دغه شیان اساساً او په پاي کی د افغانانو په ګټه دي او په حقیقت کي د خورا نیستمنو افغانانو په ګټه دي.

**افغانستان ټایمز:** تاسی د غنمو په حاصلاتو کی د زیاتوالی خبره وکړه په داسی حال کی چې موږ لا اوس هم غنم له بهر څخه عمدتاً له پاکستان څخه وارد وو. آیا تاسی ولی نه یاست توانیدلی چې د کرهنی پراختیایی پروژی په دا تیرو ۶ کلو په امن ځایونو کي پلی کړي؟

**د خوراک او کرهنی سازمان:** د لومړي پوښتني په اړه په افغانستان کی د اوړو کولو ظرفیت په پوره اندازه نه دي او آن که تاسی پوره اندازه غنم هم تولید کړئ د دی ظرفیت نه شته چې هغه په اوړو بدل کړئ. ستاسی د دوهمی پوښتنی په اړوند کومی شمیري چې ما درکړي هغه د ۲۰۰۷ کال لپاره دي خو زموږ فعالیتونه په دا تیرو ۵ کلونو لپاره جریان لري او په حقیقت کی موږ دا ۲۰ کاله کیږي چې په افغانستان کی یو. کله چې ما د تخم په هکله خبري وکړي دا دی دوامدری څیړنی نتیجه ده چې د کرهنی د وزارت او نورو همکارنو سره د ډیرو کلو مودی لپاره کار ورباندي کیږی. دغه همکاری به په راتلونکی کی هم دوام ولري.

**آیینه تلویزیون:** آیا کیدای شي تاسو موږ ته د خوراکي توکو د اندازې په اړه چې د ۲۰۰۷ کال په ترڅ کي ویشلي شوي معلومات راکړئ. تاسو به د ۲۰۰۸ کال په بهیر کي څومره خوراکي توکي و ویشئ؟

**نړیوال خوراکی پروګرام:** په ۲۰۰۷ کال کي موږ په هیواد کي نږدې ۲۲۰،۰۰۰ ټنه خوراکي توکي ویشلي دي. ددغه مداخلتي اضافي پروګرام د مخه زموږ پلان د ۲۰۰۸ کال لپاره نږدی ۱۷۵،۰۰۰ ټنه وه. ددې دلیل چې دا پلان ولي په ۲۰۰۸ کال کي راټیټ شو دا دي لکه څنګه چې ما د مخه هم وویل چې موږ د ۲۰۰۷ کال په لومړیو کي لا هم د یوه کال وړاندي د وچکالی د مرستو په پوره کولو بوخت وه.

**د کلید راډیو:** د هیواد د سړو او نا امنو ولایتونو ځینو اوسیدونکو د خوراکي موادو د کموالی په هکله شکایتونه درلودل او همدارنګه د هیواد سوداګرو د افغانستان د حکومت څخه دسلو میلیونو ډالرو د مرستي غوښتنه کړې ترڅو په هیواد کي بیېي راټیټي کړي. آیا ملګري ملتونه پدې هکله کوم کار کړای شي؟

**نړیوال خوراکی پروګرام:** ژمي هر کال افغانستان ته را رسي او دا هغه شی ندی چې اندازه لګول په کي کوم ګران کار وي. د ژمی اغیزې په څرګندو سیمو کي په ښه توګه معلومیدای شي، نو له دې امله د خوراک نړیوال پروګرام د ژمی د رارسیدو نه وړاندې پروګرامونه جوړ کړی دی او د دې پروګرامونو له لارې موږ پوهیږو چې کومي سیمي د لاس رسي وړ نه دي. موږ هڅه کوو چې د ژمي د رارسیدو څخه وړاندې هلته مرستي ورسو. سږ کال موږ د تیر کال په پرتله ډیر زیات بریالي وو. موږ و کولای شوای چې د ژمي د رارسیدو څخه وړاندې څه نا څه ۲۲،۰۰۰ ټنه خوراکي توکي په بدخشان، غور، دایکندي او بامیانو کي

وویشو. موږ په اخر کي و نه کولای شوای چي په پای کي ۷۰۰ یا ۸۰۰ ته په دایکندي کي مرستي ورسو کله چي دایکندي د نه لاس رسی وړ شوه. ستا د بلي پوښتني په اړه باید ووایم چي د افغانستان حکومت د سترو تمویل کوونکو سره د اضافي مرستو په هکله خبري اتري کړي. او د دې خبرو اتو موخه هم د قیمتونو کنترول په ګوته شوي. زموږ مداخلت ددي مرستو د اندازې له وجي او هم د دې وجي څخه چي دا مرستي به د هیواد په کچه ویشلی کیږي نو موږ نشو کولای چي د قیمتونو په موضوع باندې تاثیر ولرو.

**د تمدن تلویزیون:** د افغانستان په کرنیز سکتور کي کومي ستونزې موجود دي، چي باید حل شي؟

**د خوراک او کرهنی سازمان:** زه فکر کوم چي اوبه لګول یو له هغو موضوعګانو څخه ده چي پام او پانګه اچووني ته اړتیا لري. همدا اوس ۱،۵ میلیونه هکتاره ځمکه تر اوبو لاندې ده او په همدې ډول ۱،۵ میلیونه ځمکه للمي ده. د اوبه شوې ساحي بیا رغونه او په همدې ډول د اوبو د ایسارولو او د بندونو له لارې اوبه تر لاسه کول او په همدې ډول د سیندونو جریان ته په دې ډول بدلون ورکول چي زیاته کرنیزه ځمکي تر اوبو لاندې شي، هغه فعالیتونه دي چي باید په هیواد کي ورته لومړیتوب ورکړل شي. د تولید د ښه والی لپاره کروندګر دې ته اړتیا لري چي تصدیق شوي تخم (Certified Seed) چي ما ور نه مخکي یادوونه وکړه استعمال کړي. که کروندګر بل ډول تخم استعمال کړي د دوي حاصل به لږ تر لږه ۳۰ په سلو کی ټیټ شي. نو په دې ډول هغه کروندګر چي تصدیق شوي تخمونه استعمالوي د هغوي حاصل به ۳۰ په سلو کی لوړ شي. په همدې ډول د کیمیاوي سرې استعمال او له ناروغیو څخه د هغوي د فصلونو ساتل حاصلات زیاتوي. دریم، افغانستان زیات شمیر سبزي او میوېي تولیدوي، دغه موضوع دې ته اړتیا لري چي د دې فصلو د ناروغیو او مضرو حشرو څخه وژغورل شي. هر کال یو شمیر حشري یا ملخان پیدا کیږي چي پر غنمو باندېډ ناوړه اغیزه کوي. څرنګه چي ما مخکي وویل، هغه مچان چي پر خټکی باندې ناوړه اغیزه کوي او هم د کولارادو په نوم خزېکه/حشره پر خټکیو او الوګانو باندې اغیزه کوي. څلورم موضوع د بازارموندنه ده. افغانستان د ډیر لوړ کیفیت لرونکو تولیداتو خاوند دی، د مثال په توګه ښه انار او خټکي تولیدوي، نو دغه هیواد باید بهرني بازارونه/مارکیټونه پیدا کړي، ترڅو کروندګر وکولای شي خپل تولیدات بهر ته واستوي. او په همدې ډول بزګران دې ته اړتیا لري چي د سوړ ساتلو سیستمونه او بهرني مارکیټونه ولري.

**پژواک:** تاسي مخکي د واورې د درندو ورښتونو او د وارو د راشی (برفکوچونو) څخه یادونه وکړه، نو په دې هکله ځانګړي تدبیرونه چي د هیواد په بیلا بیلو برخو د دې خلکو سره مرسته وشي، څه دي؟

**یوناما:** موږ د معلوماتو د ټولولو په پړاو کي یو، موږ تر اوسه هم د هیواد د ګوډ ګوډ نه معلومات تر لاسه کوو. لکه چي تاسي پوهیږئ مرسته لا د یخوا څخه شته، دغه مرسته به هغوي ته په تاکلی وخت کي ورسیږي. ملي او نړیوالو امنیتي ځواکونو په تیرو لنډو ورځو کي د ۴۰۰ څخه زیات خلک ژغورلي. موږ له نږدې څخه وضعیت څارو او د مرسته کوونکو او د سمون ورکوونکو سازمانونو او په همدې ډول د حکومت سره په تماس کي یو، ترڅو د هغو کسانو سره مرسته وشي چي د اوسني یخي هوا څخه اغیزمن شوي دي.

**ایرین:** د اوسنیو بدلونونو سره څومره وګړي د خوارو د عدم مصونیت تر لیکي رسیدلي دي او د هغو کسانو شمیره چې د خوارو د عدم مصونیت سره مخ دی څومره ده؟

**نړیوال خوراکی پروګرام:** زه به دغوندې وروسته تاسو ته دغه شمیره درکړم چې ټوله شمیره څومره ده. خو زموږ تحلیلونه اوس دا څرګندوي چې نږدې ۱،۳ میلیونه کسان چې ما یې یادونه کړې ده هغه کسان دي چې نسبتا مصونه دي. خو د بیبو د لوړوالی له کبله اوس موږ په دې باور یو چې هغوي زیات زیان منونکي ګروپ ته ور ګډ شوي دي، خو زه به تاسو ته اصلی شمیره د غوندې وروسته درکړم. زه یوازې غواړم دا څرګنده کړم چې دا کلیوال وګړي دي. هغه جلا تحلیل چې د ښاري وګړو لپاره شوي دی دا جوتوي چې کیدلای شي اضافی ۹۰۰،۰۰۰ کسان به د ۱،۳ میلیونو په سر کې وي.

**بی بی سی:** زما پوښتنه له ښاغلی کورسینو څخه ده.آیا څو کورنی په هیواد کی د خوړو د نه مصونیت سره مخامخ دي. او که چیري هغوي سره مرسته و نه شي هغوي ته به څه واقع شی او په هیواد کی د وروستیو ډیرو واورو په نظر کی نیولو سره آیا د کومی کاختي وړاند وینه کولای شئ؟

**نړیوال خوراکی پروګرام:** د کورنیو د شمیر په ارتباط چې موږ په کلیوالی سیمو کی ورباندی غږیږو زموږ هدف تقریباً دوه لکه او شل زره کورنی دي. موږ خبر یو چې دوه اوونی دمخه دولت د یو وزیر له خوا په هیواد کی د یوی ممکنی کاختی په اړه شوي وه. خو موږ د دی هیڅ شواهد نه لرو او موږ د حکومت سره چک کړیده هغوی وویل، چې دوي هم د کاختی کوم شواهد نلري. نو موږ د کاختی په اړه خبری نه کوو. اصلی خبره د خوړو نه مصونیت لوړ خطر هغه ده کله چې خلک په دغه کتګوری کی راشی نو دوي د هر ډول اضافی ستونزی په وړاندي آسیب منونکی شي. د ساری په توګه که چیری داسی واقع شی چې په ۲۰۰۸ کی حاصلات ډیر کم شی چې هغه بیا په هیواد د خوړو ذخیری کمی کړي او البته دا به د بیو په لوړوالو کی زیاتوالی راولی نو هغه کسان چې په حاشیه کی اوسیږي خو بیا هم ایله ګزاره کوي نو کیدای شی د افراطی حالت سره مخامخ شی. خو کله چې زه افراطی حالت څخه خبري کوم د دغه حالت عینی شاخصونه کیدای شی دا وي چې دا خلک به مجبور شی خپلی وروستی شتمنی وپلوری او یا شاید دوي کډوالی ته اړ شي.

**د سهار اته:** د دې واقعیت په پوهیدو سره چې افغانستان د دغه ډول ستونزو سره مخ دي، ځکه چې د ډیرو کلونو را په دې خوا نړیواله ټولنه په افغانستان کې حضور لري. تاسو د داسې حالت تر پیښیدو وړاندې ولې د دې لپاره غوښتنه نه ده کړې؟

**نړیوال خوراکی پروګرام:** موږ په پرله پسې توګه د هیواد په ډیرو برخو کې د حالت څارنه کوو. او هغه څه چې تاسو ورباندې باید پوه شئ چې ما د بیبو د زیاتیدو یادوونه وکړه چې په ټوله دغه موده کې د خواړو بیې پورته شوي دي، وروستیو دوو میاشتو کې په بیبو کې لا ډیر زیاتوالی راغلی. په دغو وختونو کې تر وړاندې خبرتیا نه وه او نه هم ددغه شان حالت د پیښیدو نښاني لیدل کیدلې. لکه چې ما تر مخه یادوونه وکړه په دې هیواد کې د بیو زیاتوالی زیاتره د هیواد څخه د باندې منځته راغلی دی.

له ټولو څخه مننه